

Merci et bravo
à nos illustrateurs !





CROIX-ROUGE
de Belgique

www.lamaisondugraphisme.be

# ډیپلومونه

## ډپلوم سرتیفیکیت (ابتدایی اوثانوی)

دهردورې په پای کې زده کوونکو یودیپلوم ترلاسه کوی.

**داساسی تعلیماتو سرتیفیکیت C.E.B. :** دابتدایی دوری په پای کی وړاندیرکیږی.

**دثانوی لومړی رتبې سرتیفیکیت C.E.1.D :** په ثانوی دوری په دوهم کال په پای کی وړاندیزشی.

**دثانوی دوهم رتبې سرتیفیکیت C.E.2.D :** په ثانوی دوری په څلورم کال په پای کی وړاندیزشی.

**دثانوی عالی تعلیماتو سرتیفیکیت C.E.S.S :** په ثانوی دوری په شپږم کال ( عمومی، تخنیکي اویاهم هنري برخه) په پای اویاهم به اووم کال ( مسلکی برخه) په پای کی وړاندیزکیږی.

**دتوانایی اوصلاحیت سرتیفیکیت 6 (C.Q.6) :** دثانوی دورې په شپږم کال په پای کې وړاندیزکیږی.

**دتوانایی اوصلاحیت سرتیفیکیت 7 ( C.Q.7 ) :** دثانوی دورې په شپږم کال په پای کې وړاندیزشی.

**دشپږم حرفوی تعلیمی سرتیفیکیت C.E.P.6 :** دثانوی حرفوی برخه په شپږم کال په پای کی وړاندیزکیږی.

دثانوي تکمیلی (بشپړونکی) تعلیمی تصدیق نامې دنرسنګ برخه E.P.S.C : دبشپړونکی مسلکی تعلیماتو په څلورم رتبې په پای کې وړاندیزکیږی.

دمدیریت اساساتوپوهیدل سرتیفیکیت هغه زده کوونکوته ورکول کیږی چی دمدیریت لپاره ځانګړی توانایی ترلاسه کړی ده.

## تصدیق نامی:(په ثانوی تعلیماتوکې)

دمدیریت دثانوې تعلیماتوپه دوهمه رتبې (دریم اوڅلورم کال) او دریمه رتبې ( پنځم اوشپږم کال) په ترخ کې، دهرکال په پای کې دا تصدیقنامی وړاندیزکیږی:

**د « آ» لارښود تصدیقنامی AOA :** بشپړبریالیتوب (زده کوونکو لوړوټولګی ته ځی اوکولای شی انتخابی مضامینواودلوست شکلونه انتخاب وکړی).

**د « ب» لارښود تصدیقنامی AOB :** بریالیتوب دمحدودیت سره (زده کوونکو لوړوټولګی ته ځی، مګرصرف کولای شی دښوونکودمشوری پربنسټ انتخاب وکړی). دټولګی شورا، نشی کولای چی په انتقالی برخه کی دپنځم کال په پای کې داتصدیقنامی وړاندیزکوی.

**د « ث» لارښود تصدیقنامی AOC :** ناکامی (جبرا په همدی کال پاتی شی اونشی کولای چی لوړوټولګی ته ځی).

# قاموس

**دوالدینوانجمن:** دزده کوونکووالدینوګروپ چی غواړی دمکتب کارکونکی سره یوځای دتعلیم وضعیت ښه کول لپاره کارکوی. هغوی دمکتب کارکونکی اوزده کوونکووالدینوترمنځ منځګړی دی.

**دکډوالوزده کونکو ښه راغلاست اوتعلیمي میکانیزم:** دامیکانیزم د نوی راغلی زده کوونکوپه بلجیم کی ده اوهغوی ته دازمینه برابروی چی کولای شی فرانسوی ژبه زده کړی اوپه عادی مکتب کی شامل شی.

**یووالي بورډ:** دا بورډ دهغه ښوونکوته جوړشویده چی دمکتب ریس له خوانه ټاکل شویده. دهغوی دنده داده چی هغه زده کوونکوچی په کډوالوزده کونکو ښه راغلاست اوتعلیمي میکانیزم شامل دی، دهغوی سویه اولیول دنیولو پربنسټ، هغوی ته په یوعادی ټولګی معرفی وکړی.

**داخلاق مضمون (درس):** دامضمون زده کوونکوته دشهروندي حقوق اودنده، ددیموکراسی بنسټونه، آزادی، اړیکی اودانتقادي روحیی پرمختک زده کوی.

**وظایف یا کورنی کارونه:** هغه لیکل کارونه، تمرینونه، اوهغه درسونه ده چی زده کوونکو، ددرسی ساعتونه بهر، ترسره وکړی. دی دندونه دښوونکوله خوانه وسپارل شویدی.

**ديپلم:** هغه مدرک یاسند دی چی ثابت کوی چی تاسو په یو آزمون کی بریالی شوی دی

**آزادښونځي:** هغه ښونځي ده چی د مذهبی انجمنونه له خوا تنظیم شویده.

**رسمي ښونځي:** دا ښونځي درسمی قدرت له خوانه رامنځ ته شویده.

**خصوصی ښونځی:** هغه ښونځی ده چی دولونی - بروکسل له خوانه مالي مرسته نشي.

**آزادزده کوونکی:** هغه زده کوونکوده چی دیوتعلیمی کال شرایطونه پوره نه دی کړی او یاهم په جدي شکل کی درسونه نه تعقیب وی. ددی له امله، دهغوی تعلیمی کال نه شمیرېږی او نشی کولای چی په لوړوټولګی ته ځی.

**آزموينه:** ليکلي یا شفاهي آزموینه ده چی ده زده کوونکو سویه مشخص کوی.

**دټولګی دورځپاڼي:** هغه کتابګوټي یا جنتري دی چی زده کوونکو خپل درسی ساعتونه اوتمرینونه په کی یادداشت وکړی. همدارنګه داکتابګوټی دزده کوونکووالدینو اوښوونکوته دازمینه برابروی چی هغوی کولای شی یوبل سره تماس ولری.

**دنشتون جوازنامه :** هغه مدرک یاسند ده چی دزده کوونکونشتوالی توجیه کوی اوباید په ټاکلی وخت، چی دمقررات له خوانه تعیین شویده، په اداري برخه کی وسپارل شی. (دمثال په توګه : دداکترتصدیق).

**داخلي اصول اومقررات (اِر او آی):** داسند (مقررات) دزده کوونکوده ثبت نام په وخت کی، والدینوته وړاندیزشی. په دی سند کی دمکتب مختلف قوانینو چی باید مراعات شی، توضیح شویده. همدارنګه دقانون سرغړونه سزاهم یادونه شویده.



F.E.R.
Fonds Européen pour les Réfugiés

# په کوم ځای کې کولی شم نور اطلاعات ترلاسه کړم؟

ویب پاڼې:

دهغه مکتبونو لیست چی دکډوالوزده کونکو ښه راغلاست اوتعلیمي میکانیزم لری، د پی ام اس لیست اودمختلف تحصیلی لیولو، ثبت نام کول او نورمعلومات... www.enseignement.be

دکاردبیلابیلودورو www.devenirKLK1.be

لارښود www.orientation.be

دکاربیلابیلودورو اولارښود www.siep.be

دمرسته سرویس www.aidealajeunesse.cfwb.be

د ژباړه (ترجمه)، ترجمان اودفرانسوی ژبی کورسونو سرویس www.cire.irisnet.be

دکورنیودنده لپاره ښونځی www.ffedd.be

دتعلیم اوتحصیل په اړوند ټیلیفون شمیرو سرویس، لارښود، دکاردورې، دتحصیل لیول ... www.guidesocial.be

دمساوی اوبرابرفرصتونه اودتوکمپالنې پرضد مقابلې مرکز www.diversite.be

ګټور تیلیفون شمیری:


رایګان یا مجاني ټیلیفون شمیره،« مکتب اووالدین»، دهغوشاګردانووالدینولپاره چی په مکتب کې دخشونت قرباني اویاهم شاهد دی: **080095580** د دوشنبه تر جمعه د 9 بجی تر 13

رایګان شمیره، دثبت نام کول مرسته لپاره خدماتی برخه : **080018855**

ګټورادرسونه:

**دشغل اوتحصیلاتو لپاره معلوماتي سرویس SIEP**

| | | |
|---|---|---|
| Bruxelles : | 109-111, Rue de la Poste, 1030 Bruxelles | • 02/640 08 32 |
| Charleroi : | 51, Boulevard P. Janson, 6000 Charleroi | • 071/33 12 06 |
| Liège : | 26, Rue Saint-Gilles, 4000 Liège | • 04/222 08 78 |
| Mons : | 101, Chaussée de Binche, bloc C, 7000 Mons | • 065/33 48 22 |
| Namur : | 12, Rue de Saintraint, 5000 Namur | • 081/25 14 00 |
| Wavre : | 13, Rue de Flandre, 1300 Wavre | • 010/47 10 80 |
| Libramont : | 39A, Grand Rue, 6800 Libramont-Chevigny | • 061/21 32 21 |



# دآدرس دبدلون په صورت کې څه باید وکړو؟

زه باید مخکې ددی نه چې زماماشوم مکتب نه ووځي، دمکتب مدیرته خبرتیا ورکوم. که ممکن وی، دنوې مکتب ادرس هم هغوی ته ورکوم.
که زما ماشوم په ابتدایی دوره وی: دښونځی پریښودل پاڼه یاسند ماته ورکول کیږی. دا پاڼه باید پوره شي اونوی مکتب ته وسپارل شی.
په ثانوي دوره: دنوی ښونځی ریس دمخکینی مکتب ریس سره، دپرونده ترلاسه کول لپاره، تماس به ونیسی.



## په کوم ځای کې کولی شم فرانسوی ژبه زده کړم؟

په ځینوسره صلیب کمپونوپه بلجیم کې دفرانسوي ژبه کورسونه شته.
په اکثرښارونوکې ځینومراکزودفرانسوي ژبه زده کول لپاره شتون لری.
دزیاتره معلومات لپاره کولای شې په دی ویب پانه وګوری.

http://www.guidesocial.be/




F.E.R.
Fonds Européen pour les Réfugiés

# په ښونځی کی دنوروستونزولپاره چا سره باید تماس ونیسم؟

که هغه کسانوسره چی په مکتب کی کارکوی ستونزی سره مخامخ شم، په ځینی ښارونوکی، کولای شم انترکلتوریل منځګروسره تماس نیسم. هغوی کوشش کوی چی دمکتب سره د خبرواترو لپاره یولاری پیداشی. دا ماته کومک کوی چی مکتب سره تماس نیسم او یوبل سره زیاتره نژدې شو.


که زما ماشوم دتوکمپالنې (نژادپرستی) یاراسیسم قربانې ده او یاهم په دی عمل کی شاهد ده، زه باید عمل وکړم. لومړی باید هغه کسانوته معلومات ورکوم چی په مکتب کی اساسی نقش لری. همدارنګه زه کولای شم، ټولنیزروانی مرکزونه سره چی کولای شی په ټولګی کی انترکلتوریل برنامی جوړوی، معلومات ورکوم. ددی نه وروسته، دبشری حقوق ځانګړي سرویس کولای شی ماته ملتیا او لارښوونه کوی. دمساوی اوبرابرفرصتونه اودتوکمپالنې پرضدمقابلې مرکزهم آماده دی چی زمونژراپورونه اوشکایتونه دتوکمپالنې لپاره ومنی اوددوی پرضد اقدام وکړی.



http://www.diversite.be

یو رایګان یا مجانې ټیلیفون شمیره،« مکتب اووالدین»، دهغوشاګردانووالدینولپاره چی په مکتب کې دخشونت قربانې اویاهم شاهد دی، داجبارې روزنې عمومې مدیریت له خوانه رامنځ ته شویده.

Ecole et Parents
0800/95 580
numéro gratuit d'information
du lundi au vendredi de 9 à 13h



CROIX-ROUGE de Belgique

# کله زما ماشوم ته، په مکتب کې، کوم تحصيلي ستونزي پيښيږي، چا ته بايد مراجعه وکړم؟

ځيني مکتبونو دزده کونکوستونزي لپاره ځيني حل لاره وړانديزکوي. ددي لپاره زه کولای شم ښونکو يا معلمينو سره تماس ونيسم. که زما ماشوم دزده کړې لپاره ستونزي سره مخامخ دي، دکورنيوډنډولپاره ښونځی شتون لري. (ای.د.د.) دامکتبونه، دتحصيلی ځای نه بهردی او زماماشوم ته مختلف فعاليتونه وړانديزکوی. دهغوی يوشميرته بايد هزينه يالګښت ورکړل شي.

دهغوی مکتبونو(دکورنيوډنډولپاره ښونخی) ليست په دي سايت کي www.ffedd.be : .شتون لري

ځيني وختونه، دتحصيلی مشورې خدمتونه (سرويس)، کولای شي زماماشوم سره مرسته وکړي. کله چي دښونځی نه وتلی يا اخراج شويده اوياهم په مکتب که حاضرنشي.

دزياتومعلوماتو لپاره، په انترنيتي خدماتو سايت او يا د ځوانانو دمرسته لپاره اختصاصي برخه مراجعه شي: www.aidealajeunesse.cfwb.be

**د رواني روغتيايي مرکز د مرسته لپاره ده.**


هرمکتب په يوټولنيزرواني روغتيايي مرکز (پی ام اس ) ته اړتيا لري. په دي مرکزکي اروايوه (روانشناس)، ټولنيزمشاور اويوداکتريا نرس شامل دی.


هغوی دزده کوونکواو دهغوی والدينو دستونزي دحل لارپيداکولو لپاره ( تحصيلي لارښود، داړيکي ستونزي اونورو....) هلته دی. دماشومانو، ځوانانو اوهمداسي دوالدينوسره مرسته دهغوی ډنده ده. هغوی، دزده کوونکو دپرمختک اودهغوی دتحصيلی اوږوند پروسی مرسته لپاره برنامی وړانديزکوی.

همدارنګه، پی ام اس مرکزونه، دزده کوونکودلارښود لپاره، نظرونه وړانديزکوی. هغه کسان چی په دی مراکزوکارکوی، هغوی اسراريا رازونه ساتی. هغوی دا اجازه نلری چی معلومات نورته ورکوی.

هغه ورځ چی زما ماشوم په مکتب کی ثبت نام شی، د پی ام اس مرکزنوم ماته ورکول کيږی.

زه کولای شم چی له هغه پی ام اس مرکزچی دزما ماشوم مکتب سره همکاردی، ملاقات غوښتنه وکړم. ددی لپاره کوم لګښت يا کوم مصرف نه ورکوم.






F.E.R.
Fonds Européen pour les Réfugiés


# دروزنې منځګړی څوک دی اوڅه کارونه کوي؟

دروزنې منځګری یوبرخه دهغه میکانیزم ده چې له ولونی- بروکسل فدراسیون څخه رامنځ ته شوی ده. هغوی دتحصیل ترک کول اودنشتوالی وړاندوینه اوخبرداری ورکول اوهمدا رنګه دخشونت (تاوتریخوالي) له زده کوونکوله خوا، په اړه مداخله کوي.

دښونځی ریس، ښوونکی، والدین اوزده کوونکی کولای شي هغوی سره تماس ونیسي. دخلکوترمنځ اړیکی آسانول دهغوی یوه بله دنده ده.




# د ورزش (دتربیت بدني) ټولګی څنګه ده؟




دورزش ټولګی لکه نورټولګي اجبارې ده.

زماماشوم باید خپل ضروري شیان ( سپین بوټان، شورت، تې شیرت اونور...) ولري.

# دټولګی ورځپاڼې څه ده؟



دایوکتابچه ده چې زماماشوم ته اجازه ورکوي چې دټولګی هرساعت، مضمونونه او کورنی کارونه (تمرینونه) ولیکې. ممکنه ده چې یوجنتري اویایوکتابچه وی.
ښوونکی، خپل اطلاعات اویاداښتونه په کی ولیکي. دټولګی ورځپاڼي، دښونځی او دزده کوونکودفامیل داړیکي زمینه برابروي.
زماماشوم، باید هروخت ده ټولګی ورځپاڼي خپل ځان سره ولري.
زه باید په منظمه توګه دا ټولګی ورځپاڼي وګورم اولاسلیک کړم.



F.E.R.
Fonds Européen pour les Réfugiés


# څه قواعد باید په ټولګی کې احترام شي؟

زده کوونکی باید په خپل وخت ټولګی ته حاضرشي. ناموجه ځنډ کولای شي د سزا لامل شي.



دلوست په وخت کی، باید دښوونکوخبرو اتروته پاملرنه وشي. کله چې غوارم خبرې وکړم، باید خپل لاس اوچت کړم اوانتظارپاتي شم ترسو، ښوونکی ماته اجازه راکړي. کله چې نورخبرې کوي، دهغوی خبرې غوخول ښه کارنه دي.

داډیرضروري ده چې زمونږشخصي شیان (لکه کتابونه، کتابچې، قلمونه، پنسلونه، واکمن اونورو...) موږسره وی. ښوونکی کولای شي هغه زده کوونکوته چې خپل شخصي شیان ورسره نه وی، سزا ورکړي. هرښونځی اوهرښوونکی کولای شي، ځانګړي شیان له زده کوونکونه وغواړي.



# هغه زده کونکي چې قوانینوته احترام نکوي، څه ډول سزا ورکول کیږي؟

مجازات (سزا) دتخلف سره تړاولري. زه دیومکتوب له خوا، دهغه مجازات په اړه چې زما ماشوم لپاره په پام کې نیول شوی ده، معلومات ترلاس کوم.

انضباطي یادونه، دترسره شوي کارلپاره، دټولګی ورځپاڼي کې به ولیکل شي.

دوتلوممنوعیت، دا په دې معنی ده چې زما ماشوم دځانګړوساعتونوکې، سربیره ددرسی ساعتونونه ښونځی کې پاتې شي.

دیوټولګی څخه لنډمهاله اخراج، یعنې زماماشوم نه شي کولای چې، په یوه ځانګړي ټولګی، په ځانګړوساعتونوکې حاضرشي.

لنډمهاله اخراج، زماماشوم په یوه ځانګړی وخت، لکه خوورځی، نه شي کولای چې په ټولګی کې ګډون وکړي.

دایمي اخراج، یعنې زماماشوم اجازه نه لري چې ښونځی ته لارشی. په دې صورت کې، هغه بل ښونځی ته ځي. داخراج نه مخکې، ښونځی باید یوپروسیجرترسره کړي.

CROIX-ROUGE de Belgique

# یوه اونی اویوه ورځ څنګه تیریږي؟

اونۍ ددوشنبې نه پیل، اودجمعه ورځ په16 بجو ختمیږي. په عمومې ټوګه، په چهارشنبه کې صرف سهاردرس دی (ځینې وختونه زده کوونکی دمجازات په ټوګه باید ترغرمې وروسته پاتې شي). ځینې وخت، اضافي فعالیتونو، په چهارشنبه کې، له غرمې وروسته تنظیم شوی دی.

هرښونځی، دروزنې دپیل اوپای ساعتونو لپاره تصمیم نیسي. دا په داخلې نظم مقرره کې ټاکل شوی دی.

هرورځ ماشومان، په سهارکې یوتفریح، اودډوډی لپاره، په غرمې کې یووقفه لري.


**په ابتدايي دوره کې:**

په عمومي ټوګه، ښونځی د 8 بجو او 9 بجو ترمنځ پیل، او د 15:30 او 16 بجو ترمنځ ختمیږي.

**په ثانوي دوره کې:**

هرټولګی یوخاص مهال ویش لري. دکال په پیل کې، ښوونکی زده کوونکوته یو «کورس مهالویش» ورکوي. په ثانوې دوره کې دا امکانات شته چې، ددرس دپیل اوپای وختونه، ورته نه وي.

په ثانوي کې، زده کوونکی، دهرمضمون لپاره، ښوونکی بدلوي. په عمومې ټوګه، زده کوونکی، په هردرسې ساعت کې ټولګی بدلوي.





F.E.R.
Fonds Européen pour les Réfugiés

# څنګه دښونځی تعلیمي کال تیریږي؟

په بلجیم کې، تعلیمي کال د سپتمبرپه میاشت کې پیل کیږي.

**دیوه کال په اوږدوکې، مختلفی رخصتې شتون لري**

- داکتوبرپه پای اودنوامبرپه پیل کې شاوخوا: دمني رخصتي یا د توسن رخصتی (یوه اونۍ).
- ددسامبرپه پای کې: دژمي رخصتی یا نویل (دوه اونۍ).
- په فبروري کې: ددوبي یا کارناوال رخصتي (یوه اونۍ).
- دمارچ په پای کې اودآپریل دپیل ترمنځ: پسرلي رخصتي یا پاک (دوه اونۍ).
- تعلیمي کال دجون په میاشت کې پای ته رسیږي. نوزده کوونکی دوه میاشتی رخصت دي.
- په همدا ډول داختورځې په بلجیم که رخصتي دي اوپه دې ورځې ښونځی، ادارات اوځینې دوکانونه بند دي.

دلومړنی زده کړې، دآزموینی وخت اوطرزالعملونه، په داخلي نظم مقرره کې لیکل شوی دی. اساسا زده کوونکی، دتعلیمي کال په اوږدوکې، دارزوني لاندې دي. دښپږم ابتدایي په پای کې، ماشوم باید یوآزموینه چې سرتیفیکیت لري (اساسی زده کړوسرتیفیکیت) یا CEB ورکوي. که بریالی شی، کولای شې په ثانوي دوره کی شامل شي، که ناکام شی، لومړی کال «متفاوت» ته ځي.
دثانوي دوره، آزموینی، په عمومي توګه، ددسمبر یا په جنوري اویاهم په جون کې اخستل کیږي. کله چې آزموینې اصلاح شوي، ښونځی زده کوونکوته خبرتیا ورکوي.دکال په اوږدوکې، ماته بله خبرتیاهم له ښونځی له خوا راکول کیږي چې ماته اجازه راکوي چې زما ماشوم پرمختک تعقیب وم.


په کال کې څوځلې غونډې، دښوونکواودوالدینو ترمنځ، کیږي. ښونکی، زماماشوم پرمختک، چلند په ټولګی کې اوداسې نورمسره شریک کوي اوهمدارنګه زه کولای شم چې پوښتنې وکړم. داډیرمهمه ده چې هرکله زه په دی غونډو کې ګډون وکړم.




دښونځی کلیزه په دې ویب پاڼې لټول دی
**http://www.enseignement.be** :

# څنګه زما ماشوم ثبت نام کړم؟


زکولای شم دکال په هروخت کی زما دماشوم ثبت نام وکړم.



دثبت نام لپاره، زه خپل ماشوم سره یوځای ښونځی ته ځم. دثبت نام لپاره، اداري پرسونل ځیني اسنادونه ضرورت لري. نوددې لپاره داډیره مهمه ده چې ځینې کاغذونه لکه (انیکس 26، اورنج کارت، دهویت کارت....) له ما سره وي. دلومړی ثانوې ثبت نام لپاره، یوفورمه د ابتدایي ښونځی له خوا ماته به راکړل شي. زه باید دا فورمه ډکه کړم اوهغه ثانوې ښونځی ته چې انتخاب مې کړي ده وړاندیز کړم. له دې وروسته، ددوی پریکړه به ماته اعلان شي.

دثبت نام په وخت کې، داخلې نظم مقرره ، دښونځی تعلیمي پروژه، دتعلیم عمومي مقررات اوهمدا رنګه دتدریسي مواد یولیست، د رواني-طبي-ټولنیز مرکز نوم، چې زماماشوم ښونځی ته اړتیا لري، ماته به راکړل شي. هغه وخت، ماته یوفرصت دي، چې دښونځی په اړه معلومات ترلاس کړم

داامکانات هم شته، چې دځای دنشتوالي له امله، زه ونشم کولای زماماشوم په هغه ښونځی کی چې زه غواړم، ثبت نام کړم. مګرداښونځی مسولیت لري چې ماته یو تصدیق راکړي چې ما دثبت نام لپاره غوشتنه کړی ده. له دې وروسته زه باید د بل ښونځی پلټنه وکړم. ددې لپاره زه کولای شم چې دفرانسې ټولنې دنوم لیکنې ملاتړبرخی، له وړیا تلفون 080018855 له لارې مرسته غواړم.



**رایګان اواجباري روزنې**

داساسې قانون (24 ماده) او د «ماموریت» فرمان (100 مادی اونورو) پربنسټ، تعلیم ته لاسرسی تراجباري زده کړې پای پوری مفت دي.
په عمل کې، پرته دشخصې ښونځیو، ټولوښونځیو، له ولونې – بروکسل فدراسیون له خوا تمویل کیږي.
نودتاسوماشوم ښونځی کی، د با کیفیته زده کړولپاره، مالې مرسته ترلاسه کوي. خودامرسته نشي کولای چې ټولومصارفوته ځواب وواي، له دې امله، ځینې اجبارې اواختیارې لګښتونو تاسوته په ګوته کیږي.
دتعلیمې کال له پیل څخه مخکې، ښونځی یوسند تاسوته درکوي چې ده مصارفو یا دلګښتونواټکل یی کړی ده اوتشریح کوي چه څنګه دا لګښتونه ویشل شوی دی.
کله چې تاسونه شي کولای دغه لګښتونه ورکړې، تاسوکولای شې دښونځی مدیریابل مسول سره ددې لپاره خبرې وکړی. ممکنه ده چې یوه دحل لاره د دی لپاره پیداشي.

دمالي مامور: دښونځی دمحاسبې د برخی مسول دي. هغه دمالي چارو مدیریت کوي. دبیلګې په توګه، دښوونکولپاره تجهیزاتوپېرودلو تنظیم کول، دکانتین لپاره تیکیت خرڅول، دښونځی کتابونه په امانت ورکول اوخرڅول.


دزده کوونکود روزنې د څارونکودارالانشا: هغوی دزده کوونکوننوتل او وتل اوهمدارنګه دهغوی نشتوالی کنټرول کوي. هغوی دتفریح وخت کی، دهلیز اوکانتین نه نظارت کوي او کولای شې چې دزده کوونکو ثبت نام وکړي.

ښوونکي: په ثانوې دوره کی، هغه ښځینه اونارینه وي چې اساسآ یوازې یومضمون (ریاضې، فرانسوې، سپورت ...) تدریس کوي.چه دوی د دی ترینینګ اود دی دیپلوم په دی مضمون کی ترلاسه کړی دي. نوله دې امله، دهرمضمون لپاره یوښونکی ده.

خوکله ناکله یوشمیریې دوه اویا درې مضمونونه تدریس کوي.

په DASPA کی ځینې ښونځی څوښوونکی لري، خوکله ناکله یو ښونکی ټول مضامین تدریس کوي.

چپراسیان: دپاکې، حفظ اومراقبت مسول دي، خودښونځی پاکوالې اوصفایې دټولومسولیت دي.



# څوک په ښونځی کې کارکوي؟

## چمتووالي او ابتدايي


نځی ريس چې هغه ته مديريامديره هم وايي: هغه ښونځی اداره کوي اودښونځی مسول يا مسوله ده.

ښونکی:هغه ښځی اونارينه چې يو ترينينګ اويو رسمي ديپلوم يی ترلاسه کړی وی. په چمتووالي اوابتدايي دوره کې، هغوی ځومضامين تدريس کوي، دتفريح ساعتونو ځارنه کوي، دټلوګی بورډ ياشورا کی ګډون کوي،

دزده کووکو والدينو سره ګوري. هغوی د ټولی زدکړی په دوره کی، زده کوونکوسره ملتيا کوي اومرسته کوي چې هغوی سترشي.

کارکوونکی:د کوټې اوټولګيو پاکوالی اومراقبت کوي.

په ځينوښونځيوکې، بهرني ځارونکو، سهاراوماښام له ماشومانو نه په نرسري کې ساتنې کوي. په ځينوځاصوشرايطوکی لکه په غرمه کې هغوی ته ډوډی ورکوي.




## په ثانوي دوره کې

په دی دوری کی ښونځی لوی ده، زده کوونکی اودښونځی پرسونل هم ډيردي.

دښونځی ريس ته په رسمي شبکه (رسمي شکل) کې پريفی يا پرفيت او په آزاد شبکه (آزادشکل) کې مديريامديره وايي. هغه ښونځی اداره کوي اودښونځی مسول دي.


پرووېزور (په رسمي شکل) يا دمديريامديره معاون يا معاونه (په آزادشکل) دعملي ژوند په ښونځی کې مسول دي اوکله چې مديريامديره غيرحاضر دي، دهغه يا دهغې پرځای ښونځی اداره کوي.

دريس منشی ، داداري له مخې دښونځی پرسونل اداره کوي.




F.E.R.
Fonds Européen pour les Réfugiés

# برخه روزني سیستم



# دبلجيم دفرانسوي ژبي



## دکډوالوزده کونکو ښه راغلاست اوتعلیمي میکانیزم څه دي؟

ځینې ښونځي، هغوبهرنیو زده کونکوته ښه راغلاست وایي چې په فرانسوي ژبه نه پوهیږي اودتعلیمي سیستم په اړه کوم معلومات نلري. دا زده کونکی یوه هدفمنده ملاتړته ضرورت لري ترڅوچې هغوی، لکه د نوروزده کونکو، دا چانس ولري چې دپوهنې له لارې پیاوړتیا ترلاسه کړي. نوددې لپاره، دکډوالوزده کونکوښه راغلاست اوتعلیمي میکانیزم، د یوی توپیري مودی په ترڅ کې (له یوی اونۍ څخه تر 12 میاشتواو حداکثر 18 میاشتو)، دمهاجرینوزده کونکوته ښه راغلاست وایي. په دغه موده کې، هغوی له یوی ځانګړې لارښوونې څخه ګټه واخلي چې هغوی ته اجازه ورکړي چې خپل ځان، په ټولنیزاو کلتوری اودبلجیم ښونځی سیستم سره برابرکړي. له دې نه وروسته، هغوی هغه روزنې ته چې هغوی ته مناسبې دي، لارښوونه وشي. کله چې، ښوونکي پدی پوه شی چې زده کوونکی کولای شي چې یوه«عادي» ټولګی ته شامل شي، هغه وخت یووالي بورډ سره راټولیږی. نوهغو، دزده کوونکوظرفیت اوتوانایي له مخې، تصمیم نیسي چې هغو کوم ټولګی ته معرفي کوي اوزده کوونکوته ډیپلوم ورکوي. په دې ډول، زده کوونکی دکډوالوزده کونکوښه راغلاست اوتعلیمي میکانیزم، پریږدي.

تاسوکولای شي چې دهغوښونځیوفهرست چې انتقالي ټولګی لري له دې ویب پاڼې ترلاسه کړي **/http://www.enseignement.be**


**دکډوالوزده کونکوښه راغلاست اوتعلیمي میکانیزم، شمولیت لپاره:**

دقانون پربنسټ، کډوال زده کوونکی، هغه زده کوونکی ده چې د یوکال څخه کم وخت کیږی چه بلجیم ته ننوتلی دی، له ½ 2 تر18 کلن ده او دا مشخصات ولري:

- خپله پناه غوښتونکی یا کډوال دي اویاهم دپناه غوښتونکی یا کډوال مل دي.
- بې وطن دي یا دبې وطني حالت یی تقاضاکړي ده. یا د پرمختګ په لور هیوادونو تبعه ده.

دا لیست ( ددی هیوادونه) د پراختیایي مرستوکمیټه له خوا ترتیب شوی ده. تاسي کولای شي دا لیست په OCDE ویب پاڼي کی وګوری.

هغه کسانو چې خپل ډیپلوم له خپل هیوادنه ترلاسه کړي ده ،کولای شي یوه معادل ترلاسه کړي. دزیاتومعلوماتولپاره دا ویب پاڼي وګوری. **/http://www.enseignement.be**



# ښونځی په بلجيم کې څنګه کارکوي؟

**په ثانوي دوره کی هم ښونځی اجبارې ده اومختلفی طريقی موجود دی ( له 12 تر18 کلن).**

ننو تلو په لومړی ثانوي دوره کښې، زماماشوم، د ده دمهارتونواوتوانايي سره سم او دداخلي غوښتنو دپابندی ( لومړی کال عامه اويا لومړی کال متفاوت ) په يوه ټولګی کې ثبت نام به شي.

له دريم کال، زما ماشوم لپاره څولارښووني اوانتخابونه امکان لري:
• د يومسلک زده کړولپاره (مسلکی او يا کواليفيکيشن برخه).
• دلوړوزده کړو لپاره (انتقالی او يا ترانزيشن برخه).


ټولو زده کونکو چې دعالي ثانوي ښوني اوروزنې سرتفيکيت (CESS)، پرته دشکل اوبرخه، ترلاسه کړي دی، کولای شي خپل زدکړو، په لومړی لوړوزده کړودوره ، پرته له انجنيري علومو چې ددې لپاره ديوه ځانګړي ازموينه بريالیتوب تصديق ضروري ده، دوام ورکړي.

له 15 کلن زما ماشوم کولای شې، نورعملی روزنه چې دښونځی اوشرکتونوترمنځ ويشل شوی ده، تعقيب کړی.
دهغه کسانولپاره چې يوخاصه مرسته ضرورت لري، په بلجيم کې يو ځانګړی تعليمی سيستم شتون لري.
• ځانګړی تعليمی سيستم هغه کسانو لپاره ده چې ذهني ستونزي لري يا معلول دي. رواني ټولنيزومرکز (PMS) هغوی ته لارښوونه کوي.

دنوروملوماتولپاره: **www.enseignement.be**

• رواني ټولنيزومرکز (PMS) دماشومانو، ځوانانو اووالدينو دمرسته لپاره ده. هغوی دزده کونکوپرمختک، ددوی ژوند اودښونځی دوره لپاره، دوی ته فرصتونواوامکاناتوبرابروي.
• زه کولای شم چې هغه مرکزسره چې دزماماشوم ښونځی سره کارکوي، په مجاني ډول تماس ونيسم.

دنورپوښتنودښوونحي لپاره زه کولای شم په ښونځی يا هم هغه رواني - روغتيايي مرکزچې ښونځی سره اړتيا لري تماس ونيسم






F.E.R.
Fonds Européen pour les Réfugiés

## ښونځی په بلجیم کې په درې پړاوو او یا په درې برخو کې ویشل شوی ده

**چمتوالي (وړکتون):** د 2½ تر 5 کلنو ماشومانولپاره
**ابتدايي:** د 6 تر 11 کلنو ماشومانولپاره
**ثانوي:** د 12 تر18 کلنوماشومانولپاره

دهرلیول یا پړاولپاره ځانګړې موخې په پام کې نیول شوې دي.
نجونې اوهلکان یوښونځی ته ځي اوټولیوځای په ګډه زده کړې کوي.


**په وړکتون یا چمتوالي کې، زماماشوم دښونځی سره آشنايي ترلاسه کوي(د ½ 2 تر 5 کلنو)**

هلته، ماشوم دټولنیزژوند، او په تدریجي ډول دلیک، لوست اودلوبوله خوا محاسبه به زده کړي. دا دوره یاټولګی اجباري نه دی خو زماماشوم دښونځی لپاره چمتوکوي اوهغوی ته اجازه ورکوي چې فرانسوي ژبه زده کړي.

**له ابتدايي څخه ښونځی اجباري دی ( له 6 تر11 کلنو).**

په ابتدايې دوره کې زما ماشوم دلیک اولوست، محاسبی اونورومضامینو (ساینس، ژبه، تاریخ، جغرافیه ...) زده کړي.

دوی په کورکې ډنډونی به ولري: تمرینونه باید انجام کړي اولوستونه باید زده کړي.
دابتدايي دوره په پای کې، په 6 شپږم کال کې، داساسي زدکړې سرتیفکیت لپاره یوه آزموینه باید ورکړي. داآزموینه ډېره مهمه ده اویودیپلوم ورکوي.
که زما ماشوم بریالی شي، دې کولای شي چې دثانوي زدکړو لومړی دوره کې شامل شي، که بریالی نشي، هغه کولای شي چې یوځل بیا دا کال تکرارکړي او یا په یوه متفاوته ابتدايي دوره کې ننوځي. که ثانوي دوره کی ننوځي، دا امکان لري چې خپل ښونځی پرېږدي اونوروښونځیوکې شامل شي.



# ښونځی په بلجیم کې څنګه تنظیم شوی ده؟

## درې ټولنی

په بلجیم کې 3 ټولنی او3 ژبی شتون لری :

- فرانسوی ټولنه یا ولوني – بروکسل (هغه خلک چه فرانسوی خبرې کوي).
- آلمانی ټولنه (هغه خلک چه په آلمانی خبرې کوی).
- فلامیش ټولنه ( هغه خلک چی په هالندي خبرې کوی).

دلته، موږ دولونی – بروکسل فدراسیون ښونځی تاسو ته معرفي کړي ده.


## رسمی اوآزاد ښونې اوروزنې

په بلجیم کې تاسوآزاد یاست چې رسمې او یاهم آزادی ښونې اوروزنې انتخاب کړئ. د یاودنې وړده چې ښونځی دهغوی د ظرفیت پربنسټ زده کونکی مني.

دښونې اوروزنې دوه ډولو، آزاد او رسمې، په بلجیم کې موجود دی.

رسمي ښونې اوروزنې: داډول ښونې اوروزنې په مستقیمه توګه عامه قدرت، یعنې فرانسوې ټولنه یاهم کومون (شاروالې) اویاهم ولایت پورې اړه لري. دا ښونې اوروزنې کوم دین اویا کومی فلسفې ته اړتیا نلري خو دینې درسونه لکه (کاتولیک، پروتستانت، یهودې، اسلامې اواورتدوکس) اویاهم د اخلاق درسونه (زده کوونکوته دوګړو حقوق اودنده، ددیموکراسې، آزادې، اړیکې او انتقادې روحیې بنسټونو یا اساسات زده کړی) وړاندیزکوي. د 2015 کال د سپتیمبرراهیسې، ده زده کړې چوکاټ بدیل، دهغوزده کونکو لپاره، چې هیڅ فلسفې درسونه انتخاب کړي ندی، ټاکل شوې ده. د2017 څخه یوه شهروندې لوست یا کورس عمومې به وي.

آزادی ښونې اوروزنې: دا آزاد اومذهبې ښونځی دي. مذهبې ښونځی د«دیوسیس » (داسقفانوحلقه) او یا دکانګریګسیون (مذهبې ټولنې) له خوا رامنځ ته شوی. آزاد ښونځی یا سیکولر،هغه ښونځی دي چې دهغوموسساتوله خوا، چې یوه ځانګړې تعلیمې لورموندنه لري رامنځ ته شوی.





F.E.R.
Fonds Européen pour les Réfugiés

# دښوونکو اوښونځی حقوق اودنده

## دښوونکو دنده:

- مغوی باید خپل عزت اواحترام وساتی، دخپل صلاحیت اواقتدارڅخه کاراوخلی اوزده کوونکوته دفزیکي اواخلاقي له مخي احترام وکړی.



- دلوست دتشریح کولولپاره باید کافی وخت پریږدی.

## ښوونکی تاکلي حقونه لری:



- مغوی ته باید، دزده کوونکوله خوا درناوی وشی.
- زده کوونکوته کورنی دنده ورکړی، همدارنګه د ښوونځي د رخصتیو پر مهال.
- زده کوونکوته مجازات ورکړی، کله چې توجیه ولری.
- دزده کوونکووالدینو سره وګوری.



## د ښونځی دنده:

- دخپل ظرفیت پربنسټ زده کوونکوی ومني.
- دهرکال پروژی آپدیت کول.
- ښونځی، دزده کوونکوخپلسري نشتوالي، زیاتره ددوی چې قانون اجازه ورکوي، باید مغوی ته اعلام کړي. دزده کوونکونشتوالي، دنیمه ورځ پربنسټ محاسبه شي. که زما ماشوم یوه ورځ غیابت یا نشتوالي ولري، دا په دی معنی ده چې دوه نیمی ورځی نشتوالي کړي ده.


په **ابتدايي دوره**، که زما ماشوم 9 نیمی ورځی، بی دلیله نشتوالي کړي وی، دښونځی مدیروظیفه لري چې د اجباري زدکړي عمومی مدیریت ته خبرورکړي.

په **ثانوی دوره**، که زما ماشوم 10 نیمی ورځی، بی دلیله نشتوالي کړي وی، دښونځی مدیروظیفه لري چې داجباري زدکړي عمومی مدیریت ته خبرورکړي. په ثانوی دوره کی له دوهم پړاو څخه (نهم اولسم ټولګی)، که زدکونکو (کوچنی یا لوی) د 20 نیمی ورځی، زیاتره بي دلیله نشتوالي کړي وی، منظمي زده کړي په صفت له لاسه ورکوي. نو زده کوونکي یوآزاد زده کوونکي شمیرهٔ؛ دا په دي معنی ده چې زده کوونکي دغه تعلیمي کال له لاسه ورکړي ده. اونشي کولای چې بل کال یا لوړ ټولګی ته لاړشي.

که زما ماشوم، ښوونکی ته نه ځي اوډیرنشتوالي لري، زه کولای شم چې مختلفواداراتوسره ( لکه CPMS اویا هم دښونځی دمنځګړیتوب خدمتونواداره) تماس ونیسم، ترڅوچې ماته ددي ستونزي لپاره مرسته وکړی.

## دښونځی حقونه:

- ښونځی مغه زده کوونکوته چې اصول اومقرراتوته درناوي نه کوی، کولای شي مجازات ورکړي. دا مجازات، دښونځی دداخلي مقرراتوکې وړاندیزشوی دی.



# دزده کونکوحقوق اودنده

## دزده کونکودنده


هرښونځي خپله خاص قوانين لري چې هغوی ته د داخلي اصول اومقررات وايي. ددی مقرراتو موخه داده چې په ښونځی کې نظم راوړي ترڅوچې په ښونځی کې یوه ځانګړې هم غږي رامنځ ته شي.




ټولوزده کونکی اوددوی والدین دادنده لری چې دې قوانينو ته درناوي وکړي.


**دامقررات په دې ډول دي:**

- ښونکی باید ددوی د زده کړې ځای، لويانوته اوهم دارنګه خپلوملګرو(هلکانواونجونو) درناوي وکړي.
- هيڅ ډول تاوتريخوالي (شفاهي اويا فزيکي) په ښونځی کې نه زغمل کيږي.
- سپکی اوراسيستي وينا منع دی.
- دهغه وسايلو بيه چې د زده کونکوپه اختيارکې به کيښودل کيږي اوهمدارنګه دښونځی کرايه ډيره ګرانه ده، له دې امله، زده کونکی باید ددغه وسايلو ښه ساتنه وکړي. که زما ماشوم يادو وسايلو ته اويا د ښونځی په يوه برخه کې زيان رسولې، زه باید خسارت ورکړم.
- زده کوونکی مکلفيت لری چې هغه مسوليتونه چې له ښونکو له خواهغوی ته سپارل کيږي، ترسره کړي.




## د زده کوونکوحقوق

هغوی کولای شی دښونکوسره وګوری.
دتدريسي موادو لپاره دښونکوڅخه زياتره معلومات وغواړي.
هغوی حق لری، دمطالعی لپاره، يوه آرام اومناسبه چاپيريال ولری.




ګه، دنورو سره (ملګرواودښونځی کارکونکو) حقوقوته درناوي، خپلوغوښتنوبيانول، دهغوی حق دی.



F.E.R.
Fonds Européen pour les Réfugiés

# دوالدينو حقوق اودنده

## دوالدينو دنده

دموراوپلاراوياهم د يوساتونكى په توګه، بايد مطمين وسوچې زموږ ماشوم په ښونځي کې حاضرده. کله چې زماماشوم نشي کولای چې ښونځی ته لارشي، زمادنده داده چې په هم دي ورځ، ښونځی ته خبر ورکړم. وروسته ژرترژره، د وړانديزسند له لارې، دده دنشتوالي ياغيبت علت، ښونځی توجيه کړم.(دمثال په توګه: کله چې زماماشوم ناروغ وي، دنشتون جوازنامه، چې دډاګترله خوانه صادره شوی وی، په ښونځی کې بايد وسپارم.)
په هم دي شان، زه بايد ډاډمن شم چې زما ماشوم خپل وظايف يا کورنی



کارونه ترسره کړي دي. کله چې په فرانسوي ژبه نه پوهيږم، دا ډيره مهمه ده چې، دخپل ماشوم ،دا پوښتنه وکړم چې خپل کارماته توضيح کړي، ترڅو، زه پوه شم چې دی څه کوي اوداپوهيږی که نه. داکار، هم ماته اوهم ښونکوته اجازه ورکوي، چې زما ماشوم دپرمختګ پروسه تعقيب کوی.


زه بايد په هغه ټولومعلوماتو چې دښونځی له لاري ماته رسيږي ښه پوه شم، ځکه چې دهغوی ځينی معلومات ډيرمهمه دي. دا معلومات دمکتوب اوياهم زماماشوم دټولګی دورځپاڼي (24 مخ) له لاري، ماته رسيږي. زه بايد په هغه ټولومعلوماتو چې دښونځی له لاري ماته رسيږي ښه پوه شم، ځکه چې



دهغوی ځينی معلومات ډيرمهمه دي. دا معلومات دمکتوب اوياهم زماماشوم دټولګی دورځپاڼي له لاري، ماته رسيږي.

دروزنې اويا په درسي وختونوکې، زه اجازه نلرم چې ټولګی ته داخل شم. که زه غواړم ښونکوسره خبرې وکړم، بايد مخکې وخت واخلم.

## دوالدينو حقوق




زه حق لرم، چې ښونکواوياهم دښونځی ريس سره، دهغوی دښه پيژندنې لپاره، وخت ونيسم اوهغوی سره وګورم.

کله چې زما اوزما ماشوم ترمنځ کومې ستونزې رامنځ ته شي، په ټولې تعليمي دوره کې، زه دا حق لرم چې ديوه ټولنيزي روان پوهنې مرکز سره تماس ونيسم. (14 او 26 مخونه)

زه حق لرم چې دوالدينو دانجمن غړيتوب ترلاسه کړم. (دوالدينو انجمن، دزده کوونکودوالدينو اوښونځی ترمنځ يوکرښه برقراروي. دا انجمن والدينو ته، دښونځی لپاره معلومات ورکوي اودځينومختلفوفعاليتونو چې ښونځی پوري تړاولري ګټه اخلي.



# دوالدينو حقوق اودندي څه دی؟ دښونځی حقوق اودنده څه ده؟

**په بلجيم هيواد کې، دمليت اواقامتی حالت پرته، ټولوماشومانوته، له شپږ6 کلنی تراته لس 18 کلنی پوري، ښونځی ته تلل اجباري دي. په بلجيم کې، هلکان اونجوني ټول يوښونځی ته ځی، اودهغوی تعليمي توکې يورقم دی.**





**ولې ښونځی اجبارې ده؟**

په بلجيم هيوادکې داجباري ښونځی پرځای دماشوم کارکول منع دي. بلجيم دا هدف تعقيب وې چی د عامه زدکړو دلاري نه دافرصت برابرشې چی په راتلونکې کې ټول وکولای شی يوه مناسبه دنده ترلاس کړي. دامساله په روښانه شکل کې دبلجيم په قانون کې څرګنده شوی ده. که چيرې دا قانون تطبيق نشی مشخصه اجرايي ضمانتونه په پام کې نيول شوی دي.

لومړی ماده – لومړی پاراګراف: زده کول دماشوم لپاره په يوه دولس کلنه دوره کې اجبارې دي.دا دوره، دتحصيلی کال په پيل کې، په هغه کال کې چې ماشوم شپږ6 کلن ده، پيل کيږي، او دهغه تحصيلی کال په پای کې چې ماشوم 18 اته لس کلن شي، ختميږي.

**د 1983 کال د 29 جون، داجباري زد کړې قانون**



F.E.R.
Fonds Européen pour les Réfugiés

# ښونځی دتاسوماشوم لپاره څه کولای شي؟

**ښونځی ته تلل، زما ماشوم ته دخبرو، لیکلواولوستلوزمینه برابروي.**


په فرانسوی ژبني ښوونه کي، په فرانسوی خبري کول، لوستل اولیکل ډیرمهم دي.

چي زما ماشوم غواړي ښونځی ته ځی، ملګروموندنه کوي، اورګاډی اخلی، هټۍ ته د سودا لپاره ورسي، رسمي مکتوبونه اواسناد پوره کوي ... باید په فرانسوي ژبه پوه شي.

په هم دی شان، په فرانسوي خبري کول، لیکل اولوستل هغه ته اجازه ورکوي چي په آسانی سره خپل ځان ته شغل اودنده انتخاب کړي. ددی هدف لپاره ټاکلي وخت ته ضرورت ده چي زما ماشوم دا ژبه په ښه توګه زده کړي اوواکمن شي.


**ښونځی تلل، زماماشوم ته دا امکانات برابروي چه دیپلوم واخلي، شغل اودنده پیداکړي اونوري توانایي ترلاس کړي.**

په بلجیم کي دکارپیداکولو لپاره یوه ترینینګ یا مشخصي تعلیمي دوری ته ضرورت ده. دیپلوم هغه سند ده چي ثابت کړي زماماشوم یوه خاصه تعلیمي دوره خلاصه کړي ده اوددي پربنسټ په یوه خاصه رشته ښه پوهیږي اوکولای شی چي په ښه توګه دا دنده ترسره کړي. دا دښونځی دلاري ترلاسه کیږي. زما ماشوم کولای شی چی، هغه ټول علوم اوتخنیکی مسایل چي په ښونځی کي یې زده کړي دي، په ټول ژوند کي په کاراوچوي.



**ښونځی تلل، زماماشوم ته دافرصت برابروي چي هغه هیواد چي په کي ژوندکوي، په ښه توکه وپیژني.**

زماماشوم کولای شی په ښونځی کي، دبلجیم دارزښتونو سره آشنايي ترلاسه کړي. دمثال په توګه، زماماشوم، دا زده کړي چی بلجیم، ددي نظرنه دفاع کوي چي، ټول انسانان، دټولنیزو، جغرافیایی، جنسیتی اومذهبی توپیرونه سره سره، دحقوق اودندو له مخی مساوي دی. په همدې ډول، ښونځی زما ماشوم لپاره دا امکان برابروي چي هغه وکولای شی چي دهغه وګړو سره چي په بلجیم کی ژوندکوی آشنایی ترلاس کړي، ټولنیزقوانین زده کړي او انتخاب کړي چی څنګه کولای شی په دي ټولنه کي شامل شي.



# لنډيز يا فهرست


نبه راغلاست ........ 5

**ښونځي دټاسوماشوم لپاره څه کولای شي؟ ........ 7**
دخبرو، ليکلواولوستلو زده کول ........ 7
ديپلوم اخستل دتيزاواسانه لاري کارپيداکولو لپاره ........ 7
دبلجيم نبه پيژندنه اوپه ټولنه کې يوځای کيدل (انتيګريشن) په آسانه لاره ........ 7

**دوالدينو حقوق اودندي څه دي؟**
**د ښونځي حقوق اودنده څه ده؟ ........ 8**

**ښونحی په بلجيم کي څنګه کارکوي؟ ........ 12**
دريو ژبني ټولنو ........ 12
رسمي او آزاد ښونځي ........ 12
ښونځی په بلجيم کې په دريو پړاو او يا په دري برخو ويشل شوی ده ........ 13
چمتووالي ........ 13
ابتدايي ........ 13
ثانوي........ 14
تخصصی روزني ........ 14
دکډوالوزده کونکو نبه راغلاست اوتعليمي ميکانيزم څه دي؟ ........ 15
آيازماماشوم کولای شي چی دکډوالوزده کونکو نبه راغلاست اوتعليمي ميکانيزم ته شامل شي؟ ........ 15
څوک په بلجيم ښونځي کې کارکوي؟ ........ 18

**عملی معلومات ........ 20**
څنګه خپل ماشوم ثبت نام کړو؟ ........ 20
څنګه دښونځی تعليمي کال تيريږي؟ ........ 21
يوه اونی اويوه ورځ څنګه تيريږي؟ ........ 22
څه قواعد بايد په ټولګی کې احترام شي؟ ........ 23
هغه زده کونکي چې قوانينوته احترام نکوي، څه ډول سزا ورکول کيږي؟ ........ 23
ورزش (دتربيت بدني) ټولګی څنګه ده؟ ........ 24
دټولګی ورځپاڼي څه دي؟ ........ 24
دروزني منځګړي څوک دی اوڅه کارونه کوي؟ ........ 25
دماشومانودتعليمی ستونزو دحل کولو لپاره چا ته بايد مراجعه وشي؟ ........ 26
په ښونځی کی دنوروستونزولپاره چا سره بايد تماس ونيسم؟ ........ 27
دآدرس دبدلون په صورت کې څه بايد وکړو؟ ........ 28
په کوم ځای کې کولی شم فرانسوی ژبه زده کړم؟ ........ 28
په کوم ځای کې کولی شم نور اطلاعات ترلاسه کړم؟ ........ 29

**ديپلومونه قاموس ........ 30-31**


د



F.E.R.
Fonds Européen pour les Réfugiés

آغلو او ښاغلو،

# تاسوته ښه راغلاست وايم!

تقريبا 25 کال کيږی چې دبلجيم سره صليب پناه غوښتونکوته پذيرايی کوی. زمونږيوه برنامه هم داده چه دکورنۍ سره، دهغوی دماشومانودتحصيلی پروسي په اړه، مرسته کوی.

په دی تيروکلونوکی دا حقيقت مونږته واضح شوی ده چی زياتره پناه غوښتنکې کورنې دتحصيلی پروسي په اړه کوم معلومات نلری. زياتره وختونه، د پلان نه شتون له امله اوياهم دژبنی ستونزي لپاره، هغوی نشی کولای چه دخپلو ماشومانودتحصيل لپاره پانګه اچونه وکړی.

دا کتابګوټي، د پناه غوښتونکي لپاره داروپايی ټولني دبودجي سازمان او دولونی – بروکسل فدراسيون په مرسته، تاسوته ترتيب شوی ده، ترڅو تاسو وکولای شې د بلجيم ښونځی اوتعليمی سيستم وپيژني.

ځينی ښوونکو، د تعليم اوتربيت او دمهاجرت متخصصينو، والدين اوپه هم دا شکل ځينی موسسې ددی اثر په رامنځته کولوکي مرسته کړی ده.

په بلجيم کی ماښومان کولای شی چې دوه نيم کلنی کې ښونځی ته لاړشی. مګردشپږوکلونو تر اته لس کلونو، ښونځی اجباري ده.

داکتابګوټی تاسوته په دی مواردوکی لارښوونه کوی : ښونځی دماشومانو لپاره څه کولای شي؟ ستاسي حقوق اودندي څه دی؟ دتحصيلی قوانينو، دښونځی نظم اوديسيپلين، دکډوالوزده کونکوښه راغلاست اوتعليمي ميکانيزم په اړه. او په هم دی ډول مختلف عملی معلومات تاسوسره شريکوي.

دیادوني وړده، داکلمی چی په ګلابي رنګ ليکل شوی دی، د دا کتابګوټي په پای کې، د قاموس په برخه کي تشريح شوی دي.

ښه لوست.

**Billy JÜNGLING**
ددیپارټمنت مدير
دپناه غوښتونکی ښه راغلاست
دبلجيم سره صليب

**Coordination et réalisation de la première édition :**
Madeleine Kirsch et Emilien Clonan

**Illustration :**
La direction, l'équipe pédagogique ainsi que les élèves de l'institut Technique Félicien Rops de la ville de Namur, sans oublier l'apport de M. Paris de l'ITCF Henri Maus

France Martin

**Graphisme, mise en page, impression :**
La Maison du Graphisme - Theux

**Remerciements**
Billy Jüngling
Directeur du Département Accueil des Demandeurs d'Asile de la Croix-Rouge de Belgique

Les membres du personnel de la Croix-Rouge, les enseignants et directions d'établissements scolaires, les professionnels de l'enseignement (agents des Centres PMS, inspecteurs, etc.) ainsi qu'Henryk Chojnacki (centre Fedasil de Rixensart) qui ont défini le contenu du présent livret

La Direction Générale de l'Enseignement Obligatoire pour sa relecture attentive lors de la mise à jour des contenus à l'automne 2015

Toutes les autres personnes qui ont relu ou porté un regard sur le travail produit

La Croix-Rouge de Belgique se réserve tous les droits d'utilisation ou de reproduction du contenu et des illustrations pour une finalité autre que celle de l'information du public visé.


Editeur responsable : D. Sondag-Thull, rue de Stalle 96, B-1180 Bruxelles
© Croix-Rouge de Belgique - Réimpression 2015

Dans toutes les actions qu'elle mène (secours nationaux et internationaux, don du sang, action sociale de proximité, actions en faveur de la jeunesse, accueil des demandeurs d'asile, etc.), la Croix-Rouge de Belgique compte sur vous. Si vous souhaitez nous aider à aider ceux qui en ont besoin, contactez-nous.

www.croix-rouge.be

Merci.








Des jean-jacques.


















































Faites votre
...
Choix!




# ښونځی په ولونی - بروکسل
# فدراسیون کي

معلوماتی کتابګوټي

## د کډوالو مور او پلار لپاره

پښتو PASHTO




Projet Croix-Rouge de Belgique - Fonds Européen pour les Réfugiés.
Relu et corrigé par la Direction des Ressources Humaines.
Traduit dans les langues suivantes :
Anglais, Russe, Arabe, Farsi, Serbo-Croate, Albanais, Pachto.

F.E.R.
Fonds Européen pour les Réfugiés

Ce document a été réalisé avec l'aide financière de l'Union Européenne. Le contenu de ce document relève de la seule responsabilité de la Croix-Rouge de Belgique, Communauté francophone, et ne peut en aucun cas être considéré comme reflétant la position de l'Union Européenne.

FÉDÉRATION WALLONIE-BRUXELLES

Avec la collaboration de la Fédération Wallonie-Bruxelles

CROIX-ROUGE de Belgique

www.croix-rouge.be